


# جلا وطنه پښتو شاعري

آمنه رازق

۱۳۹۱ لمریز
کابل - افغانستان

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library


کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: جلا وطنه پښتو شاعري

لیکواله: آمنه رازق

د لیکنې ډول: څېړنه

د لیکلو کال: ۱۳۸۹ لمریز

د چاپ کال: ۱۳۹۱ لمریز

خپرونکې اداره: د افغانستان قلم ټولنه

د پښتۍ طرحه: رامین نقشبندی

شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه

ketabton.com - The Digital Library

## سریزه

جلا وطني او خپل ټاټوبي ته شا کول او پرېښودل په ټوله نړۍ کې اوږد تاريخ لري او د انساني ژوند تر ټولو ترخې خاطرې له ځانه پرېږي . د جلا وطني معنی داده چې د ژوند او اوسېدو هر خوند او نعمت شاته پرېښودل دي او يوه خالي مېدان او پردي چاپېريال ته ځان غورځول دي .

په تېرو درېيو لسيزو کې افغانان په بې شمېره توګه د خپل خواږه وطن پرېښودو ته اړ شول او دا لړۍ تر ننه لا دوام لري .

که ووايو هر افغان دې ته اړ شو وطن پرېږدي، بې ځايه به نه وي، ځکه نو ډېرو افغانانو خپل خوږ وطن داسې پرېښود چې بېرته راتګ ته يې

ketabton.com - The Digital Library

بیا زړه ونه نیو او د اوقیانوسونو اېخوا په پردیو ملکونو کې د تل لپاره پاتې شول . د دغو افغانانو په لیکو کې ډاکتران ، انجینران ، لیکوالان ، شاعران او د ژوند د بېلابېلو مهارتونو خاوندان شامل وو چې مجبوریتونو په مخه کړل او د هېواد پرېښودلو ته یې پرې ومنل .

زه دلته د پښتو جلا وطنه شاعري یو لنډ انځور وړاندې کول غواړم ، داسې انځور وړاندې کول، که د پښتو جلا وطنه شاعرۍ حق ادا نه کړای شي ، لږ تر لږه یو یاد خو به یې ژوندی وساتي، دا پر موږ حق دی

په مینه

آمنه رازق



کتاب پېژندنه

د کتاب نوم: جلا وطنه پښتو شاعري
لیکواله : آمنه رازق
د لیکنې ډول : خپرنه
د لیکلو کال :۱۳۸۹ لمریز
د چاپ کال : ۱۳۹۱ لمریز
خپروونکې اداره : د افغانستان قلم ټولنه
د پښتۍ طرحه : رامین نقشبندی
شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

ketabton.com - The Digital Library

## پښتو شعر کې جلا وطني

که هر پښتون شاعر جلا وطنه شو، پدې مانا چې پښتون د خپلې ژبې جلاوطني ومنله، لکه چې لوی احمد شاه بابا وايي:

د ډيلي تخت هېرومه چې را ياد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

خو شاعر چې جلا وطنه شو، خپل وطن، خپل ولس او خپل فرهنګ نشي هېرولای، بلکې دا د ده د شاعرۍ مرکزي ټکی دی.

دلته مې ټول وطن پرهر پرهر شه
او
نازنين وطن مې اور واخيسته
کلي کوڅې شوې اديره اديره
نه د قاصد



نه د رېبار شته پته
نه ماشومان
نه د مرغانو آواز
د دې چوپتيا د تروږمۍ په زړه کې
زه لا خوځېږم د اشنا په طرف
ورته زخمي زخمي
ګلان ټولوم

(وحدت ورځپاڼه، د زمري ۸- ۱۳۷۳ لمريز، رازق، پېښور)

په پورتني شعر کې چې د ازاد شعر غوره بېلګه يې منلی شو، شاعر داسې يو انځور وړاندې کوي چې څنګه يې خپل خوږ ټاټوبی پرېښود او ولې دې ته مجبور شو، دا کار وکړي او بيا د دې ټولو سره بايد څه وکړي او خپل ولس ته څه ووايي.

راځئ د پښتو ورځپاڼې پشاور د ۱۳۷۲ لمريز کال د جوزا مياشتې د لومړۍ نېټې ګڼه کې د

ketabton.com - The Digital Library

رازق يو شعر «زخمونه» را واخلو چې ، شاعر د خپل وطن د تلو په ياد څه ليکلي دي .

چمن زخمي دی او بلبل زخمي دی
گلې! ترې ځم زما محل زخمي دی
باده! احتياط کوه په ورو چلېږه
دلته غاټول دلته سنبل زخمي دی
خبره غبږه دې څه خلاصه نيسه
د مسافرو هر يو پل زخمي دی
نازکو شونډو کې ادا چلوه
نن خو مو ناسته او محفل زخمي دی
طبيبه! پرېږده نور اثر نه لري
دنيا زخمي ده چې کابل زخمي دی

ربښتيا هم ، همداسې وشول . چا چې د کابل زخمونو ته اورونه را واړول دا اور د دوی کورونو ته هم ورغئ او د خپلو زخمونو ننداره يې پخپله وکړه .

پښتو جلا وطنه شاعري د خپل هېواد د مينې حق ډېر ښه ادا کړی او د تل لپاره به د دغې لارې گرمه مينه ساتي او دا د هر پښتون جلا وطنه



شاعر په وينه کې اخښل شوې مينه ، درد او ښکلا ده چې ، بايد تل يې ياد وشي او حق يې ادا شي .

خوب کې کلي کتار آسونه راشي
په بمونو باندې بار آسونه راشي
په لېمو کې يې تصوير د وير ښکارېږي
پېښور ته له مزار آسونه راشي

(اجمل اند ، څپو کې انځورونه)

(ع- ب) د عرفان کتاب خپرولو مؤسسې مسوول د کريمي فيض زاده رسولي د کتاب «زخمي شونډې» په سريزه کې ليکي : « دا کتاب د هغو ښکليو شعرونو مجموعه ده چې زياتره يې په حقيقت کې د وطن . ولس او خپل ټاټوبي څخه د ليرې توب او بېلتون خوږې او زړه وړونکې زمزمې دي....

پښتون افسانه نگار طاهر اپريدی (کراچی ) په «زخمي شونډې» نومې کتاب په الف مخ کې داسې ليکي: « يو متل دی چې زمکه[ځمکه] هم

ketabton.com - The Digital Library

هغه سوزي چې اور وربانديې بل وي ، خو په افغانستان کې د تېرو څو کلونو راهیسې داسې بل شوی اور نه یوازې د افغانستان زمکه او د هغې خاورې اوسېدونکې وراته پراته کړل بلکې « په خصوصي توګه د کوزې پښتونخوا اوسېدونکو ته یې هم تاو را رسېدلی دی . د دغه بارودې تاو له امله د کوزې پښتونخوا شاعرانو ، ادیبانو او نورو لیکوالو هومره څه ډېر لیکل کړي دي ، څومره چې د برې پښتونخوا (افغانستان) لیکوالو کړي دي ، بلکې اوس خو د افغانستان د جنګ په سبب په پښتو شاعرۍ کې څه نوي استعماري او علامتي لفظونه څه داسې رنګ شامل شوو چې اوس د مثل او مثال په توګه پېښ کېدای شي او دا ځکه چې پښتون که څه هم د اتفاق رسۍ پرېښې ده ، ولې په ذهني توګه باندې د بل پښتون په غم خفه کېږي او په درد یې خوږېږي . »

د پورتني را اخیستني نه جوتېږي چې پښتو جلا وطنې شاعرۍ چې څومره د خپل هېواد په



یادونو کې څورېږي ، هومره یې د کوزې پښتونخوا د شاعرانو او لیکوالو پام هم دې ته را وګرزاوه چې، له دوی سره د پښتنو د لوی کور ( افغانستان ) غم په ګډه وګالي او د سیمه ییزو توپیرونو کرښه پرېږدي او د ستر پښتون لوی افغان فخر افغان د لارې د ملتیا څخه خوند واخلي . په هر حال، مونږ په جلا وطنۍ کې پر شعر د جلا وطنۍ د مینې ماتولو خبره کوو ، کریمه رسولي په څه ساده الفاظو کې زمونږ سره خبره سپینوي:

ګله سبا له مې کېږدۍ ته بوزه
ماته کېږدۍ د خپل وطن یادېږي
(زخمي شونډې ۳ مخ)

لوی استاد علامه اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد، د یوې لنډې مودې جلا وطنۍ د یوه اوږده نظم برخه جوړوي. دا نظم «ترخه حالات» نومېږي. (جرس پښتو) کراچۍ کې په ۸۱ صفحه جولای سپتمبر ۱۹۹۴ زېږدیز کې چاپ شوی دی . استاد رشاد پدې نظم کې د جلا

ketabton.com - The Digital Library

وطنیٔ د بېلابېلو اړخونو دردونه په سمه توګه انځور کړي دي

دلته زه غواړم د دغه اوږده نظم څخه یوازې یوه نمونه ګرانو لوستونکو ته وړاندې کړم چې، ښه خبره به یې دا وي چې، د اروا ښاد استاد رشاد یاد به هم پکې تازه شي :

آ تر ملک بهر افغانه ! زمونږ حالات خورا ترخه دي
ځیګر سوزه مو بیان دی، زړه ریبونکی مو خواله دي
مرور دی پسرلی د افغانانو له وطنه
اړولي پدې ملک کې خزانونو لا درانه دي

دلته استاد رشاد د افغانستان د بدې ورځې د یادولو تر څنګ ملا شاهي یاده کړېده او ملا شاهي یې د افغانانو د نفاق او د ودې د هر څه د تباهیٔ عامل بللی دی .

جلا وطنه شاعري، د افغانانو د ژبې په توګه د زړه سواندو افغانانو د درد او تورې په توګه تر ډېره حده خپل رسالت او مسوولیت سرته ورساوه



او لا اوس هم پښتو شاعري د هېواد نه د باندې په ډېره مینه ، جرئت او صداقت سره هېوادنی او ملي مسئوولیتونه ستایي او سرته یې رسوي . که ژوند یې مجبوریت په جلا وطنیٔ وسپاره. خو له مرګه وروسته هم خپل وطن ، خپلې خاورې او خپل ټاټوبي ته لېواله دی :

یو مې سوال ځواب د قبر په پښتو کې
یو لحد په قندهار در څخه غواړم
چې یوازې جهاني درځي درشل ته
د سکروټو په سر لار در څخه غواړم

د پښتو ژبې ښه شاعر مرحوم اسحق ننګیال چې کابل کې مېشت و . عبدالباري جهاني ته یو لیک لیکلی دی چې. ځواب کې یې جهاني صاحب یو اوږد نظم لیکلی دی . زه غواړم تاسو ته د دې نظم ځینې بېلګې وړاندې کړم چې. دا خبره پوره جوته کوي چې. جلا وطنه شاعري کې جلا وطني په کومو الفاظو تصویر شوې ده :

ماته مه وایه چې سوځي لوړې څوکې
ماته مه وایه چې شاړې یې درې دي

ketabton.com - The Digital Library

ماته مه ښیه د بورې مورکۍ اوښکې
ماته مه وایه چې تشې بې حجرې دي
ماته مه وایه چې چیغې زندانې شوې
او لا اوښکو ته لوېدلې زولنې دي
د تیارې د ښامار ژامې لا خرپېږي
لېونتوب ته په کمین کې جېخانې دي

. . . .

ماته مه ژاړه له تورو تورو ورځو
ماته مه وایه چې سپینې د چا شپې دي
زه پوهېږم چې وطن وطن شهید دی
ماته مه وایه چې ډکې هدیرې دي

. . .

(پایکوب ، عبدالباري جهاني)

پښتو شاعري کې جلا وطني د دې سبب هم شوه، چې پښتو شعر د هېواد د باندې هم ومنل شو او پر ډېرو ژبو و ژباړل شو . د دنیا خلکو هم دا ومنله لکه چې د اسیا یو نامتو عالم او سیاستمدار د خپل هېواد «هند» په یوه ادبي غونډه کې یو وخت وویل چې: شاعري د



ختیځوالو یو غوره صفت دی . (زخمي شونډې ، ۱ مخ) او بل دا چې پښتو جلاوطنه شاعري هماغه د خپلې شروع نه د کوزې پښتونخوا شاعرۍ ته ورګډه شوه او یو د بل نه یې رنګ او خوند واخیست :

که حالاتو مې رباب له غېږې واخیست
خو نغمو ته یې کاروان راته راکړی
(اجمل اند ، څپو کې انځورونه)

رښتیا هم پیرمحمد کاروان په جلا وطنۍ کې د پښتو شاعرۍ د سر سړی دی . (چنار خبرې کوي) د پیرمحمد کاروان هغه شعري غونډ دی چې د جلا وطنې شاعرۍ داسې ښېلګې پکې را ټولې شوې دي چې، په هر لحاظ ورته د غوره شاعرۍ نمونه ویلی شو .

غوښ یې کړ تابوت یې کړ ستا نوم به مې لیکه پرې
ستا په نامه خاورو ته چنار راسره ځي

ketabton.com - The Digital Library

يا همدا مجموعه . چنار خبرې کوي کې :

سپين لباس د فرشتو ابليس اغوستی
جاهلان وايي وارث د پيغمبر دی

همدارنګه د ښاغلي کاروان په سل ها وو دغسې نمونې په جلا وطنه پښتو شاعرۍ کې پرتې دي . چې دلته يې د ځای کولو ځای تنګ دی .

استاد نجيب منلی د قلم مجلس (لومړی ګڼه ۱۳۸۵. په دويم مخ کې) په (پښتو ادبياتو کې د جلا وطنه ليکوال وندېد) تر سليک لاندې ليکي :

«د ټولو جلا وطنو په څېر جلا وطنه ليکوال هم د تضادونو په يوه پېچلي حال کې را ګير دی . چې په هر ډول چې وي . هم په خپل شخصي ژوند او هم په خپلو ادبي هستونو کې به ورسره ګوزاره کوي . هم د زمان له مخې او هم د احساس له مخې لومړی تضاد د خاورې تضاد دی . له يوې خوا د هجرت وطن له اصلي وطنه ډېر توپير لري .



منظرې ، انسانان او د ژوند لارې هر څه په بل ډول وي حتی له هغه څه نه هم بد وي چې سړی يې له جلا وطنۍ وړاندې تصور کوي .

دوهم تضاد د هويت تضاد دی . هغه انځور چې سړی يې د ځان په هکله لري . د جلا وطنۍ په شرايطو کې د هغه څه په بنسټ خورا تت او بې رونقه وي چې په خپل وطن کې يې سړی فکر کولی شي . په يو ځای کې ځان پردی او حتی سرباری ګڼل د زغم وړ خبره نه ده . ډېر ځله بيا د پرستيژ له لاسه ورکول . دغه د کمي احساس نور هم له زغمه وباسي . . .»

جلا وطني زمونږ داسې شاعران په مخه کړه چې لدې د مخه هم د شمار خلک وو او ښه نوم او شهرت يې درلود خو داسې شاعران هم پکې را لوی شول چې، ټوله شاعري يې د جلا وطني سره رنګ واخيست او په پردي وطن کې يې شعر ته مخه کړه . ښه شاعر ترې جوړ شو داسې شاعر چې تر هر څه يې د مخه په خپل شعر کې د خپل هېواد يادونو ته ځای ورکړ او د خپلې خاورې او اولس

ketabton.com - The Digital Library

يادونه بې تازه وساتل . ته به وايې فطرت هغه ته د خپل هېواد مينه او محبت وربښلی . جلا وطنه شاعر خپله بې وسي داسې په خوږه ژبه وايي :

وخت سره چې جنګ کړو خو بې وسه يو
ډېر يې که په تنګ کړو خو بې وسه يو
څرنګ به مو هېر شي هغه ګل وطن
اوس چې ورنه څنګ کړو خو بې وسه يو
مونږه مسافرو سيوری و نه موند
لاندې سر نه سنګ کړو خو بې وسه يو

(ډېوې په باد سپارمه . سيد فخر الدين هاشمي . کراچی )

جلا وطنه پښتو شاعري کې د ازاد شعر برخه هم ډېره شتمنه ده او که ووايو د پښتو ازاد شعر غوره شاعري د پښتو په جلا وطنه شاعري کې موندلی شو . بې ځايه نه ده . لاندې د يوه جلا وطني ازاد شعر نمونه د وحدت ورځپاڼې پېښور ۲ سپتمبر ۱۹۹۵ څخه را واخلو :

د زهرو پيالې
تا چې در پاکې کړې غمژنې شرمناکې اوښکې



د خپل پړوني د سر تا په پېڅو
زما په سترګو کې اغزی اغزی
د مجبوريت د يو ليدو پسرلی
د دې دنيا په زهرجن بازار کې
چا بت خانه او چا کعبه جوړه کړه
ما مې د زړه په نړېدلي کور کې يو ځل د مينې تاج محل پرانستو

او يا هم :

زه چې د شپې ستا د ليدو په تمه
د خوب او خيال تورونه وغوړوم
زه چې سوالګرې سجدې ولمبوم
نو د سوالونو ځنځير و شرنګوم

(د سباوون په تمه . ۲۱ مخ . عبدالباري جهاني . ويرجينيا - امريکا )

که د پښتو ژبې جلا وطني شعر په اړه لکه څنګه چې ښايي هغسې څېړنه او پاملرنه وشي . پښتون شاعر چې څومره جلاوطنۍ کې د خپل ادب په اړه هڅې او هاند کړی دی . د هېواد د ننه يې هم تصور کول خورا مشکل دی . دومره شعري

ketabton.com - The Digital Library

منظرې ، انسانان او د ژوند لارې هر څه په بل ډول وي حتی له هغه څه نه هم بد وي چې سړی یې له جلا وطنۍ وړاندې تصور کوي.

دوهم تضاد د هویت تضاد دی . هغه انځور چې سړی یې د ځان په هکله لري ، د جلا وطنۍ په شرایطو کې د هغه څه په بنسټ خورا تت او بې رونقه وي چې په خپل وطن کې یې سړی فکر کولی شي . په یو ځای کې ځان پردی او حتی سرباری ګڼل د زغم وړ خبره نه ده . ډېر ځله بیا د پرستیژ له لاسه ورکول . دغه د کمي احساس نور هم له زغمه وباسي . . . ))

جلا وطني زمونږ داسې شاعران په مخه کړه چې لدې د مخه هم د شمار خلک وو او ښه نوم او شهرت یې درلود خو داسې شاعران هم پکې را لوی شول چې، ټوله شاعري یې د جلا وطني سره رنګ واخیست او په پردي وطن کې یې شعر ته مخه کړه . شه شاعر ترې جوړ شو داسې شاعر چې تر هر څه یې د مخه په خپل شعر کې د خپل هېواد یادونو ته ځای ورکړ او د خپلې خاورې او اولس



یادونه یې تازه وساتل . ته به وایې فطرت هغه ته د خپل هېواد مینه او محبت وربښلی . جلا وطنه شاعر خپله بې وسي داسې په خوږه ژبه وایي :

وخت سره چې جنګ کړو خو بې وسه یو
ډېر یې که په تنګ کړو خو بې وسه یو
څرنګ به مو هېر شي هغه ګل وطن
اوس چې ورنه څنګ کړو خو بې وسه یو
مونږه مسافرو سیوری و نه موند
لاندې سر نه سنګ کړو خو بې وسه یو

(ډېوې په باد سپارمه . سید فخر الدین هاشمي . کراچی )

جلا وطنه پښتو شاعرۍ کې د ازاد شعر برخه هم ډېره شتمنه ده او که ووایو د پښتو ازاد شعر غوره شاعري د پښتو په جلا وطنه شاعري کې موندلی شو . بې ځایه نه ده . لاندې د یوه جلا وطني ازاد شعر نمونه د وحدت ورځپاڼې پېښور ۲ سپتمبر **۱۹۹۵** څخه را واخلو :

د زهرو پیالې

تا چې در پاکې کړې غمژنې شرمناکې اوښکې

ketabton.com - The Digital Library

د خپل پروني د سر تا په پیڅو
زما په سترګو کې اغزی اغزی
د مجبوریت د یو لیدو پسرلی
د دې دنیا په زهرجن بازار کې
چا بت خانه او چا کعبه جوړه کړه
ما مې د زړه په نړېدلي کور کې یو ځل د مینې تاج محل پرانستو

او یا هم:

زه چې د شپې ستا د لیدو په تمه
د خوب او خیال تورونه وغورځوم
زه چې سوالګرې سجدې ولمبوم
نو د سوالونو ځنځیر و شرنګوم

(د سباوون په تمه. ۲۱ مخ. عبدالباري جهاني. ویرجینیا - امریکا)

که د پښتو ژبې جلا وطني شعر په اړه لکه څنګه چې ښايي هغسې څېړنه او پاملرنه وشي. پښتون شاعر چې څومره جلاوطنۍ کې د خپل ادب په اړه هڅې او هاند کړی دی. د هېواد د ننه بې هم تصور کول خورا مشکل دی. دومره شعري



مجموعې چې د نړۍ په بېلابېلو ملکونو کې په پښتو ژبه چاپې شوې دي او یا نورو الکترونیکي میډیا وو په واسطه نشرې شوې دي. دلته یوازې د نوم اخیستلو حوصله او ځای نه پیدا کېږي چې پر دې کوچني اثر کې یې ذکر وشي.

د افغانستان د لیکوالو (قلم ټولنه) د ۱۳۸۵ لمریز کال د دوبې د ګڼې په ۱۲۷ مخ کې لیکلي دي. ښاغلی سلیمان لایق د پښتو او دري ژبو پیاوړی شعري استعداد د هېواد لایق عنصر او لوی عالِم دی. هغه د جلا وطنۍ په کلونو کې پر نور شعري ادبي کار او فعالیت سربېره «پښتون په پښتو لنډیو کې» په نامه په (۸۰۰۰۰) لنډیو باندې علمي څېړنه او ریسرچ کړی دی.

لدې معلومېږي چې که جلا وطنی. د پښتون شاعر ژوند ته بې شمېره زیانونه ورسول. ولې د دې سره سره پښتو ادب ته بریاوې هم په برخه شوې او د پښتو ادب غنا ته یې نوره هم ګټه ور په برخه کړه.

ketabton.com - The Digital Library

پښتو شاعري په داسې حالاتو کې جلاوطنه
شوه چې د دنیا په سیاسي نقشه کې د نه منلو
بدلونونه راغلل . پخواني شوري اتحاد تجزیه شو
او په افغانستان کې کورنۍ جګړه پیل شوه . د
پښتو شاعري لویه قافله د خپل هېواد نه د وتلو
په تکل کې شوه او په ټوله نړۍ کې تیت شول .
پدې قافله کې دوه ډوله شاعرۍ ځان وښوده .
لومړنۍ هغه شاعري چې جلا وطني کې زېږېدلې
ده او هلته يې وده کړې وه . د دغې شاعرۍ
تصویر او الهام نه په ښکاره څرګندېږي چې د
خپل ټاټوبي نه د باندې ویل شوېده . داسې
مفاهیم پکې را ټول شوي دي چې یوازې خپل
هېواد نوم يې اورېدلی . او لیدلی يې نه دی او لا
تر اوسه هم دې ته زړه نه نیسي چې خپل ټاټوبي ته
ستون شي او که نه :

د کاڼو سرود
زما د رنګ کلي تروه ټنډه کې
د مازیګر د شغلو رنګ تری تم
او د سبا زریني وړانګې يې



زيارت نه کوي
د کليوالو په ډېرينو زړونو
لا د پردي وطن
اسرې پرتې دي .
او زما د يار په بې ديدنه ګودر
نه د منګي نه د ښنګړو شته اثر
ماته ښکالو ښکالو د کاڼو سرود

دغه پښتو شاعري چې زموږ هېواد ته را
درومي . شاعر يې په پردي وطن کې لوی شوی
او د خپل هېواد نوم او برم يې زړه کې ساتلی دی
او د هر ډول سیاسي فشارونو سره سره يې خپل
معنویات او ملي ارزښتونه په درناوي یاد کړي
دي او هغه يې ستایلي دي . په پردي وطن کې
ځان بې قدره بولي او د خپل هېواد او هلته د
ستنېدو یادونه يې په زړه ورېږي :
د یوه شعر دوه بیته :

سوداګره! دې کوڅه کې دې نور څه دي
چې نکریځي په لاسو شولې بې قدره
اې د مینې د محفل جانانه څو ترې

چې ساقي او بيا پيالې شولې بې قدره

(۱۳۸۱-۱۲-۲۷ لمريز ، وحدت ورځپاڼه ،

پېښور)

د پښتو جلا وطنه شاعري په ټولګه کې داسې شاعري هم موندل کېږي چې، جلاوطنه پښتون له جلا وطنۍ د مخه څه ندي ليکلي او نه يې شاعري کړېده ، خو چې د جلا وطنۍ په تورو شپو کې راګير شو نو شاعري ته يې مخه کړېده . داسې شاعران نه يوازې په افغانستان کې بلکې د دنيا په ډېرو برخو کې تر سترګو کېږي او د دوی شاعري د لوستونکو پام هم ځانته اړولی دی

د دغو شاعرانو شناخت او هويت هم تر اوسه په پرديو وطنو کې بند پاتې دي او په دې اړه لري چې، زمونږ ادبي خوځښت هغوی را وسپړي او د هغوی د شاعرۍ په باب اوږده څېړنه په کار ده . راځئ د داسې شاعرۍ د ازاد شعر وروستی برخه را نقل کړو :

وير



هم مو ايرې کړې هم مو رنګ وطنه

چېرته چې او سپنه لړ ښه واخلي

هغوی دې ټول چېرته جذبه واخلي

زما سرکښې خاورې

زما جنت وطنه

څه بد قسمته شولې

څه بد نصيبه شولې

دغه په ځنګه لېونو واوښتې

په کرغېړنو تورو شپو واوښتې

(۱۹۹۳-د اګست ځلورمه ، کراچي- پاکستان ،

ډېوې په باد سپارمه)

دوهمه هغه شاعري ده چې شاعر يې د خپل وطن له د تګ نه د مخه د خپل هېواد د ننه ښه شهرت درلود او يا په بله ژبه يو شاعر د خپلې شاعرۍ سره جلا وطنه شو . دلته شاعر اوس د نوي چاپېريال د ستونزو سره لاس او ګرېوان دی . لومړی خو ځنګه وکولی شي د خپل وطن په څېر هلته ژوند وکړي . ځکه هلته هر څه له بوې مخې

ketabton.com - The Digital Library

بايلل شوي دي ، يوازې د يوې ګولۍ ډوډۍ پيداکولو هڅه ده ، نوُر نو داسې شپې تېرول دي ، چې سهار او بېګاه دا سوچ کول دي چې يا ليرې نړۍ ته لاړ شي او يا بېرته خپل وطن ته د تګ لاره و مومي ، د همسايه ملکونو ژوند تېرول ورته ډېر ستونزمن برېښي او په هېڅ ډول ورته د منلو وړ نه دي .

پدغو شاعرانو او ليکوالو کې اکاډميسين سليمان لايق ، محمدنبي صلاحي ، زلمی هېوادمل ،مجاور احمد زيار ، رحيم الهام ، پيرمحمد کاروان ، محمدالله رازق ، شفيع الله بابرزی ، عصمت قانع ، سيد فخرالدين هاشمي، عبدالهادي هادي ، اسمعيل يون ، شهسوار سنګروال ، عبدالباري جهاني ، ، استاد شپون ، باقي بريال ، طارق رشاد او نور شامل دي . چې دلته يې ذکر کول د ليکنې په موضوع ور ډېرېږي ، نو ځکه دا بس دی چې پر مثال يې تکيه او قناعت وکړو .



دغو شاعرانو ته د جلاوطنۍ تصوير که نوی هم و ، خو لا د مخه څه نا څه پدې پوهېدل چې شايد داسې حالات راشي د پښتو ادبياتو تاريخ چې مرحوم روهي صاحب ليکلی دی ، پدې اثر کې د زرين انځور هغه شعر چې د «مخه ښه» په نوم ليکل شويدی او چاپ شوی که ګران لوستونکي يې ولولي نو ترې په اسانۍ سره دا پته لګېدلی شي چې پښتو شعر لا د مخه د جلا وطنۍ تريخ خوب ليدلی و .

هماغسې وشوه پښتو شعر چې خپل هېواد کې يې د پرمختګ ډېر پړاوونه وهلي و ، جلا وطنه شو . دغه ډله شاعرانو نه تنها پښتو شعر پرې نښود ، بلکې په خورا ښکلي انداز سره يې ټولې نړۍ ته ور وپېژاند او دلته يې زموږ د هېواد فرهنګي غنا ته لا ډېر څه ورکړل . هغه شعر چې جلا وطنۍ کې ويل شوی دی د پيل رنګ او خوند يا په بله ژبه د جلا تصوير او الهام په لرلو سره د لوستونکو پام ځانته را اړولی شي .

ketabton.com - The Digital Library

که مونږ د پښتو معاصرې شاعرۍ په اړه څه ویل یا لیکل غواړو نو دا خبره به ورسره ضروري وي چې جلا وطنه پښتو شاعري به یې تر ټولو ستره برخه وي او که داسې نه وي نو دا هر څه به نیمګړي وي.

یوه بله د یادولو وړ خبره داده چې کله پښتو شاعري د پاکستان خاورې ته سر ور دننه کړ . نو هلته د ډیورنډ د کرښې په دوو خواوو کې سره بېل شاعران په یو ځای سره کښېناستل او ډېر څه یې چې پخوا تر دې نه و ویلي ، ویې ویل او د لر او بر پښتون د شاعرۍ منزل یو شو او په ډېره مینه یې د یو بل کلام او ذهني تصویر ته زړه ونیو او یو له بله یې ډېر څه زده کړل او د ډیورنډ په کرښه جلا والی ورته په ریښتونيٍ توګه تپل شوی کار برېښېده .

پښتو ادب او په ځانګړې توګه پښتو شاعري د افغانستان د جګړې په اور کې د ډیورنډ کرښې دواړو خواوو ته داسې سره ورته ریښې وغزولې چې اوس یې د ژبې ، کلتور او الهام له مخې سره



بېلول په هر صورت مشکل او ستونزمن برېښي او د دې نه علاوه برياوې او ګټې يې دا شوې چې يو د بل درد او غم يې شريک شو او يو ګډ اواز ته ورته شو چې ارمان او مقصديت يې يو شو او په ګډه سره د پښتو شعر د سوچه توب او برياوو په لور هڅې شروع شوې او ډېر څه يې لاسته راوړل او توپير او سرحد پکې خپل ارزښت له لاسه ورکړه . هر څه د دې لپاره شول چې چېرې او څنګه داسې شعر وويل شي چې د معنى ، مقصد او ښکلا له مخې په رښتينې معنى شعر وبلل شي او د شعر بېلابېلو ډولونو ته وده ورکړي ډېر څه پکې د ګډو هڅو له مخې داسې ومنل شول چې پخوا د منلو هډو تصور هم نه کېده . دلته د مجاوراحمد زيار يو ازاد شعر را نقلوو :

نا ښبونکې ګناه
نوره ښکالو
ستا د راتلو
له ذهنه وتې ده
د هغې خاورې

ketabton.com - The Digital Library

چې سجده ځای
زما د مینې وتل
ماته سپېدې
سباوون
مه یادوه ......

(زما نری، م۰ ۱ زیار،
پېښور، ۳/۷/۹۴ ز)

له پورتني ازاد شعر نه جوتېږي چې استاد زیار هڅه کړې ده تر څو سوچه پښتو او بیا ازاد شعر هم د کوزې پښتونخوا لمنو ته له ځانه سره یوسي. هغه هلته د اوسېدو پر مهال د پښتونخوا بېلابېلې سیمې ولیدې او حتی د پښتو ژبې د لیکوالو او شاعرانو حجرو او دېرو ته یې ځان ورساوه او ډېر څه یې له هغوی سره شریک کړل.



د جلا وطنه شاعري غوره څېرې
استاد سعدالدین شپون، عبدالباري جهاني، محمدنبي صلاحي، شفیع الله بابرزی، سید فخرالدین هاشمي، پیرمحمد کاروان، محمدالله رازق، زرین انځور، عصمت قانع، تاج محمد

ketabton.com - The Digital Library

یاري ، استاد روهي ، مجاوراحمد زیار ، غلام محمد کاموال ، غلام محی الدین زرمل وال ، مرحوم اسحق ننګیال ، پروین فیض زاده ملال ، عبدالهادي هادي او نور ... هغه نومونه دي ، چې نه یوازې د هېواد د ننه بلکې د هېواد د باندې یې هم داسې څه له خانه پرېښې، چې پښتو شعر او پښتون ولس باید پرې وویاړي .

دلته به له (عینکي اوښ) نه چې د استاد محمدنبي صلاحي طنزیه ناول دی او په جلا وطنۍ کې لیکل شوی او د پښتونخوا په هرېپور کې چاپ شوی دی . د (یاغي هوس) په نامه د آزاد شعر یوه ډېره ښکلې نمونه تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کړو :

یاغي هوس
ستا د جفا لښکرو
زما د وفا پر کلي
د بېلتون ډزې وکړې
ما د یاغي هوس
په شنو اسوېلو



زموږ د پښتو ژبې په ادبي تاریخ کې ژوندي پاتې وي او زموږ فرهنګ او ادب به پر دوی ویاړي .

دوی د پښتو شعر په ګلبڼ کې د پښتو داسې خدمت کړی ده لکه چې مجروح ، رښتین او الفت صاحب دغې ژبې لپاره کړی و .

که دغه خدمت او چوپړ د حالاتو په تناسب وڅېړل شي نو معلومه به شي چې حتی د تېرو په پرتله په دربو لسیزو کې چې وطن کې د جګړې اور بلېده هم لا ډېر او د یادولو څه شوی دی . که چېرې ، د دغې شاعري بهیر په خیر سره مطالعه او له سره وڅېړل شي . نو ډېر څه موندلو او را سپړلو ګنجایش پکې شته او ډېرې ملي شتمنۍ پکې موندلی شوی .

د دغې شاعرۍ لمن ډېره پراخه ده او پدې ګلبڼ کې ډېر څه موندلی شوی چې د نړۍ د معاصر شعر سره په پوره ډاډ سره پرتله کېدای شي که د بر صغیر او یا د نړۍ د هغه شعر بېلګې چې د جګړې له اور څخه ژوندۍ را وتې دي . د

ketabton.com - The Digital Library

## په پښتو جلا وطنه شاعرۍ کې تصویر

پښتو جلا وطنه شعر د دریو لسیزو په درشل کې یوازې تر وزن او قافیو پورې بند پاتې نه شو، بلکې د یوه داسې شعر نماینده او سرخېل شو چې نړۍ د یوه شعر په نامه وپېژانده . کره کتونکو او قلم کارانو ته د قبول وړ وګرځېد . که د حمزه شینواري او خاطر اپریدي غزل د خیبر دره ښکلې ساتلې وه . نو کاروان د برې پښتونخوا نه داسې غزل له خانه سره وروړ چې هماغه شکل او خوند یې څو خله زیات کړو .

په جلا وطنه پښتو شاعرۍ کې تصویر داسې ځای نیولی دی چې نه یوازې جلا وطني پکې انځور شوې ده . بلکې د پښتو شعر ټول مقصدي اړخونه پکې رانغښتي دي . موږ لکه چې مخکې د څو څېرو نومونه ذکر کړل . دا یوازې د همدې پاڼې تر بریده دي . بلکې پدې شاعرۍ کې دومره لوی کاروان باید ذکر شي چې دلته یې د یادولو او لیکلو تر حده د دې اثر حوصله مندي او ګنجایش نشي منلی .



په جلا وطنه پښتو شعر کې پخواني ( انقلابي او ( جهادي ) تصویرونه هم له سره په یوه افغاني او یوه ملي تصویر واوښتل او د پښتو شعر ته یې د شعریت روح ور وبانښه او غزل له سره د پښتو شاعرۍ د ناوې سینګار وګرځېده .

ما کوز ورته لیمه کړه زما سره نه ټیټېده
شاید چې په الفت کې هم افغان پاتې کېدم

جلا وطنه پښتو شاعري د تصویر له مخې د بل هر وخت د پښتو شاعرۍ بډایه برخه بللی شو .

پدې برخه کې که جلا وطني د یوه تصویر په توګه وه او که د شعریت په توګه دواړه څه داسې برخې دي چې سره بېلول یې د شاعر سلیقې ته زیان رسول دي او نه باید چې سره بېل شي . پدغه شاعرۍ کې تصویر ته داسې ځای ورکړل شوی دی، چې د ژوند د بېلا بېلو اړخونو د ترجمان په سترګه ورته کتلی شو . د ژوند داسې اړخونو سره لګوي چې د معاصرې شاعرۍ د یوه معیاري شعر سره ښایي .

ketabton.com - The Digital Library

خپل تصویر له مخې د خپلې ښکلا او الهام له مخې ځان د ولس زړونو ته ورسوي نو بیا تر ډېره وخته په زړونو کې پاتېږي او تر پېړیو پېړیو مرګ نلري ، ځکه چې هغه د هر ذوق ، سلیقې او غوښتنې سره برابر خېژي .

که د پیرمحمد کاروان شاعري (چنار خبرې کوي) په غور سره ولوستله شي نو د ښې او غوره شاعرۍ ښېلګې پکې له ورایه بریښي ، داسې تصویرونه یې وړاندې کړي دي چې له حمزه بابا وروسته سخته ده د بل شاعر په شاعرۍ کې تر سترګو شي ، ځکه نوموړي شاعر په خپل ټول توان سره د شعر د ښکلا اصل په پام کې نیولی دی او یا په لنډ ډول پښتو شعر ته یې پام اړولی تر څو د دې شعر لمن پراخه او په عین حال کې قدم په قدم ښکلی شي .

په شعر کې ښکلا د الهام او تصویر سره نږدې اړیکې لري او یو ښه شعر د شعار او کلیشه یې نظمونو نه رابېلوي ، هغه کلیشه یې شعرونه او نظمونه نه یې را بېلوی چې ، حتی یو ځل په



لوستلو هم نه ارزي او که چېرې یو ځل ولوستل شي د قضاوت او کره کتنې له مخې تر بیا لوستلو به پاتې نشي .

لنډه دا چې په پښتو شاعرۍ کې چې څومره د تصویر خبره ده ډېر بډایه بریښي او د دې بډایۍ ډېره برخه په جلا وطنه پښتو شاعري پورې اړه لري .

که پښتو جلا وطنه شاعري د کره کتنې په تول وتلله شي او په راتلونکو کې دغه باب ته پاملرنه وشي ، تحقیق او څېړنه غواړي داسې څېړنه چې د دې توان ولري چې هغه ارزیابي او تدقیق کړي نو کره کتونکي به ډېر څه تر لاسه کړي او داسې تصویرونه به پکې ومومي چې تر ننه به یې نه وي موندلي او د غوره شاعري مثالونه به پکې وموندل شي .

داسې ښېلګې به پکې وموندل شي چې د ټولې نړۍ په مخ د ادبیاتو په تېره شاعري سره به سر ولګوي او په نورو ژبو به و ژباړل شي ، همدا اوس هم په ټوله نړۍ کې پښتو شاعري خپله لمن

ketabton.com - The Digital Library

پراخوي له پېښوره تر اروپا او امريکا ورسېده او په ټوله نړۍ کې لوستونکي لري او کله چې بېرته خپل هېواد ته را رسي دلته په ادبي او فرهنګي ټولنو کې د قبلېدو وړ وي.

دا ځکه چې شعري ښکلا لري ، الهام او تصوير د يوه منظم چوکاټ له مخې سره يو ځای شوي دي چې دهر زړه او سليقې سره سرخوري ، تکراري او کليشه يي مطالبو ته شا اړول شوېده ، نو ځکه د لوستونکو د پام وړ ګرزي.

که پخوا پښتو شاعري د کوزې او برې پښتونخوا پورې تړلې پاتې وه ، نن د ټولې نړۍ په ادبي محفلونو کې ځای لري ، که په سمه توګه وژباړله شي ، لرې نه ده زمونږه ډېر پښتو شاعران به د نړۍ د ګوتو په شمار شاعرانو په ډله کې ځای ونيسي او حتی که زمونږ د شل دېرش کلونو جګړې او ويرانيو سم تصويرونه وړاندې کړي ، د نړۍ د مثالي او غوره شعر په سر کې ځای نيولی شي که مونږ د پښتو جلا وطنه شاعري ډېر ځوان شعر هم له نظره تېر کړو داسې تصوير پکې



موندلی شو چې د ويلو او بيا بيا ويلو باندې ارزي . دلته د موضوع په اړه تصويري کلام او ژبني تصوير په اړه د عبدالغفور لېوال څېړنيز مطلب ته را ګرزو.

تصويري کلام ، هغه دی چې غرض ور څخه د يوه شي ، فکر يا پېښې تصويرول وي او بالاخره ذهن ته رسول وي.

ژبنی تصوير ، د مفاهيمو هغه مجموعه ده چې د ژبې په وسيله شی يا فکر يا يوه پېښه تصوير کړي (مجموعه مقالات اولين جشنواره ادبيات معاصر افغانستان ، انجمن قلم ، صفحات ۴۲-۴۳)

دلته د مرحوم ننګيال د جلاوطنۍ هغه شعر هم را اخيستل شوی دی چې يو دوراني تصوير وړاندې کوي:

ketabton.com - The Digital Library

ببدیا
سپېره ببدیا ده پکې پل د بنیادم نشته
یو څو پېریان دي له پردیو غرو راغلي
بربندېږي ناڅي ناڅي

. . .

پر خوارېږه خوب پرېوځي

. . .

د زهرو ونه ده ولاړه
پر ببزو ادې یې سیوری کړی
ببزو د زهرو پرګی خوري هر ګړی ورځینې حمل اخلي
د ورځې دېرش ځلو ښت بچیان زېږوي
د ورځې دېرش ځلو ښت ځوانان شي بیا قتلېږي
خو ببزو ادې پرګي خوري
او لګیا ده هر ورځ نوي بچیان زېږوي
پېریان ګډېږي
د ببزو ادې په ویر او په خواریو خاندې
چې شپه تیاره شي



پر خوارېږه خوب پرېوځي
سپېره ببدیا ده پکې پل د بنیادم نشته
(اسحاق ننګیال)

د تصویر غنا د غزل په پرتله په ازاد شعر کې پرېمانه تر سترګو کېږي . پدې اړه د پوهاند دوکتور مجاوراحمد زیار «زما نړۍ» جلاوطنه مجموعه بیا را اخلو په (۸۱) مخ کې :

ستا یون
ستا ګورو ګورو
تورو تورو زلفو
د سپین سبا د غوړېدو په هیله
زما د اوښکو د څڅواکو
ترنم انځوره
د یوې بې سارې تورې شپې
په زړه کې
هغه وخت لاړ
د زماني له یاده
چې د برخلیک سترګې مې
وې د سپېڅلې پاکې مینې

ketabton.com - The Digital Library

برم ته
لکه سپېڅلې د سباوون هنداره
اوس له یا نه سره ستا
زه وینو وینو شېبو
لکه نیمزاله تنه تنه وړمه
کړمه د بڼو په کوهې کې بندي

(پېښور ۱۴/۱۱/۹۴)

پښتو جلا وطنه شاعري د ډېرو شاعرانو تر ذهن او ګوتو ورسېده غواړم دلته د یوه داسې شاعر د شعر یادونه هم وکړم چې د دیني علومو طالب او ژوند او زده کړه یې په پېښور کې کړېده. د دغه شاعر خوږ غزل د دې توان لري ځان تر هر زړه ورسوي او په ډېرو زړونو کې ځای ونیسي.

د هېواد نامتو شاعر پیرمحمد کاروان د دې کتاب « د حورې طالب جان » په مقدمه کې همدغه خبره کوي او د دغه شاعرۍ د بېلابېلو اړخونو نمونې وړاندې کوي.



ما ستا له سترګو لاس نیوی کړی دی
چا ویل چې پیرته عقیده نه لرم

یا

راځه محمد علیمه چې ترې وکړو لاس نیوی
بڼو لاندې جانان غوث الاعظم راوړی دی
او یا د دې کتاب په **۴۳** مخ کې
داسې سوالګریم چې کچکول مې هم د سرو زرو دی
هر چاته نه یم دربدلی د سوبت لپاره [۱]

تصویر د پښتو دَ جلا وطنه شاعرۍ نه بېلبېدونکې برخه ده چې پرغزل او ازاد شعر کې ځانته ځای مومي او ازاد شعر یا غزل ته ښکلا او غنا وربخښي.

---

[۱] - سوبت : طالبان هر منی دله دله کرزي او د ژمي لپاره د هر چانه پیسی اخلي.

ketabton.com - The Digital Library

دلته د پښتو جلا وطنه شاعري بېشماره بېلګې موجودې دي . چې راوړل او یادول یې د دې اثر له حوصلې وتلی کار دی یو اوږد بحث . تدقیق او څېړنې ته ضرورت لري د ټولو آثارو راټولول د هغوی چاپول او بیا د تحقیق او څېړنې تر خاوندانو رسول طبیعي خبره ده . مشکل او ستونزمن کار دی چې کلونه کلونه وخت غواړي تر څو زمونږ راتلونکی نسل پدې وپوهېږي کله چې یو شاعر وطن پرېږدي د هغه د فکر او تخیل پراوونه له څنګه نازکو شېبو او حالاتو نه تېرېږي چې باید و څېړل شي او پرې ډېر څه ولیکل شي.



## د جلا وطنه پښتو شاعرۍ راتلونکې

د پښتو جلا وطنه شاعرۍ راتلونکی پدې پورې اړه لري چې د افغانستان جګړه تر کومه دوام کوي او د دې جګړې پایلې به د دې وطن لپاره کومې وي . قضاوتونه ، تغییرات . امیدونه ټول پدې پورې تړلې دي . جلا وطني به ختمه شي او که دا لړۍ دوام ولري دا هغه پوښتنې دي چې د دې خاورې هر فرهنګي او د قلم خاوند یې د ځانه سره لري. دا چې دا جګړه په سیمه ییز حالت بدله شوې او ټوله نړۍ یې ځانته را کښلې ده . د افغانستان جغرافیایي او سیاسي نقشه به

ketabton.com - The Digital Library

## پایله

په ټوله نړۍ کې د مهاجرینو او جلا وطنو پرتله دا ښیي چې افغانان په بې شمېره توګه جلا وطنه وو
او نن هم هماغه حال دی .

پدغو جلا وطنو کې زیات شمېر فرهنګیان ، لیکوالان او شاعران هم شامل دي . دوی دومره تیت او پرک او سره لرې پراته دي چې د هغوی په اړه څه لیکل او څېړنه تر ټولو سخت کار دی .

ما پدې کوچنۍ لیکنه کې تر وسه وسه هڅه کړېده، مشت نمونه خروار څو بېلګې او مثالونه تاسو ته وړاندې کړم .

په جلا وطنه پښتو ادب لیکنه او څېړنه وخت او شرایط غواړي. داسې ټولنو ته اړتیا ده ترڅو پدې اړه تحقیق او څېړنه وکړي . د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د لیکوالو او شاعرانو په معرفي او تبارز کې مرسته وکړي . د هغوی آثار



څنګه وي او زمونږ طبیعي زېرمې او شتمنۍ به کله د افغانانو په لاسونو کې ولوېږي .

د افغانستان فرهنګي ارزښتونه ساتل هم پدې پورې اړه لري ، تر څو افغانان د خپلې خاورې ، خپل فرهنګ او خپلو بېلا بېلو ارزښتونو خاوندان شي .

نو بیا هغه وخت کېدای شي د پښتو جلا وطنه شاعري توري توري را ټول او د خپل هېواد راتلونکي نسلونو ته وړاندې شي . پدې کې له یوې خوا دغه خوره وره شاعري له ورکېدو او مړه کېدو وساتله شي او له بلې خوا هغه ارمانونه به ژوندي وساتل شي چې یو جلا وطنه شاعر له ځانه سره درلودل او د هغوی په یاد بې په ډېرو سختو شرایطو کې شاعري کړې ده .

ketabton.com - The Digital Library

را ټول او پر يوه واحد او ځانګړي مرکز کې را ټول شي . کره کتنې او تحقيق ته واچول شي. ما پدې ليکنه کې په ډېرې سختۍ سره وکولی شو . تر څو له مجلو ، اخبارونو او کتابونو څخه څه داسې ببلګې راټولې کړم . ترڅو لږ تر لږه وکولی شم د جلا وطنه پښتو ادب په هکله مې يو څه لوستونکو ته وړاندې کړی وي .

که دا هر څومره کم وي ، نمونه دي . خو اميد لوستونکي يې په ډېر څه ومني .



مأخذونه


۱- وحدت ورځپاڼه . پېښور چاپ .

۲- زخمي شونډې .د مېرمن ملال شعري غونډ .

۳- ملا شاهي . د اکاډميسين علامه پوهاند عبدالشکور رشاد نظم .

۴- چنار خبرې کوي . د پيرمحمد کاروان شعري غونډ .

۵- عينکي اونښ . څېړندوی محمدنبي صلاحي پښتونخوا . هريپور .

۶- پايکوب . د عبدالباري جهاني شعري غونډ .

۷- څپو کې انځورونه . د اجمل اند شعري غونډ .

۸- قلم مجله . استاد نجيب منلی .

۹- ډېوې په باد سپارمه . سيد فخرالدين هاشمي .

۱۰- د سباوون په تمه . عبدالباري جهاني .


۱۱- پښتو په پښتو لنډيو کې . سليمان لايق .

۱۲- زما نړۍ . مجاور احمد زيار .

۱۳- سيندونه هم مري . مرحوم ننګيال .

۱۴- د حورې طالب جان . د محمد عليم بسمل شعري غونډ .

ketabton.com - The Digital Library



## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*